
عبدالغفور لېوال
۲۰۲/۰۹/۰۸

# د باز تونګه او د مُلا پتو




**یو:**

موږ چې واږه وو، د افغانستان نقشه به مو رسموله او د دغې خوږې نقشې د رسمولو پرمهال به د رسم ښوونکي راته ویل:

افغانستان لکه یو باز داسې دی او (د بدخشان واخان تړانګه) به یې ښوده، چې دا لکه د باز تونګه.

**دوه:**

د ملانصرالدین د کور شا ته د څو کسانو د شخړې شورماشور شو، مېرمنې ملا ته وویل:

ته ورشه وه سړیه! چې څه کیسه ده؟
یخني وه. ملا پټو تر ځان راتاو کړ او ورووت ...
بهر غلو چل جوړ کړی و، د ملا پټو یې ترې واخیست او وتښتېدل.
ملانصرالدین تشې اوږې راستون شو .
ښځې وپوښت: څه کیسه وه؟
ملا وویل: هېڅ. ټوله شخړه زما پر پټو وه.

**درې:**

تېر کال دا وېره توده شوه، چې پاکیستان په هر ډول غواړي د واخان لاره ورخپله کړي او له اقتصادي زنکدن څخه د ځانژغورنې یوه لاره مخامخ منځنۍ اسیا هېوادونو ته ځانرسول ګڼي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هغه مهال وينو افغانانو شورماشور جوړ کړ، کيسه لږ چوپه شوه، خو دا دی ګزکي يې اوس راووتله.

د ګيلګيت بېلتستان شخړه دولتي ترهګرو جوړه کړې. هلته شيعه و سني سره نښتي او په دې پلمه پوځ ورغی او پر دغې خودمختارې خو خورا ستراتيژيکي سيمې يې خېټه واچوله.

نن خبر خپور شو، چې تاجيکستان درې ترهګر هغه وخت وژلي، چې پرون يې ظاهراً له افغانستان څخه د وراوښتلو هڅه کوله.

نن چترال راوپرځېد.

اعلان وشو، چې د الفاروق په نامه توغندي به سيمه په اور واړوي.

هاخوا، د جاني خېلو بکاخېل سيمه - د شويو دعوو له مخې- په امريکايي وسلو سمبالو ټوپکوالو ډکه کړې ده.

د پاړه چنار او نورو شيعهمېشتو سيمو شيعه او سني پښتانه د باروتو پر غونډيو سره ناست دي.

د پښتنو راويښوونکي پښتونژغورني غورځنګ ته ګواښونه کېږي، نيول کيږي، کړول کيږي او وژل کيږي.

په افغاني بدخشان کې وژنې رواني دي او «پردي پردي سرونه» په کې لکه پيريان ګرځي راګرځي.

**څلور:**

څه ناڅه يوه لسيزه پخوا د «خونړيو پولو» د تيورۍ له رابرملاکېدو سره د درېيو نويو واکمنيو د جوړېدو ګونګوسي غږول کېدل؛ په منځني ختيځ کې خپلواک کُردستان، په سهيللويديزه اسيا کې خپلواک بلوچستان او په پاميرونو (بدخشانونو) کې اسماعيلي خودمختاره اقليم. هيڅوک د دغو ولسونو د خپلواکۍ له غمه مړه نه ول / نه دي. بلکې خبره د لويو ځواکونو د امنيتي حضور او ترسيورې يې د اقتصادي سيالۍ وه/ ده.

**پينځه:**

چين د سي- پيک لار جوړوي، خو پر ټوله پلان شوې ليکه يې سر له اوسه لا اور بل دی. له قراقروم رانيولې تر ګوادر پورې. پاکيستان په واخان کې لار غواړي، د منځنۍ اسيا هېوادونه هم اشتها لري، چې مخامخ تودو اوبو ته لار ومومي او خپل توليدات د پاکستان له لارو سمندر ته وباسي.

چل ټول د افغانستان ټونګې ته جوړ دی.

**شپږ:**

چين سي- پيک جوړوي، امريکا يې په هرقيمت مخه نيسي، پاکيستان او منځنۍ اسيا هېوادونه واخان غواړي. د هر يوه د ماموريت لپاره نيابتي وسله والې ډلې په کار دي، دا اجيرې ډلې د اسلام تر نامه لاندې جنګول کيږي، تور اسلام ښېل دی، سپين اسلام ښېل، اخواني - تنظيمي اسلام يو دی او د القاعدې سلفي اسلام بل، د تشيع اسلام جدا او اسماعيليه هغه ځانته.

دا ډلې ډلګۍ به ټولې د جګړو ډګرونو ته ورکوزيږي.
ويښ و هوښيار ملتونه د لوبې لوري دي.
په خوب ويده او ناهوښيار ملتونه قربانيان.
هو، بس يوازې قربانيان.
کيسه ټوله زموږ پټو ته جوړه ده.

**ويښتيا، روښانتيا او بدلون**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ